ئوبلىياتدوك

غلام محمد كامه ول



ژوبل یادونه

دشعرونو مجموعه

غلام محمد کامه وال

۱۳۶۷

سـریـزه

کله چې دپښتوپه معاصروادبیاتوکې دشعر دارزښت او خانګړتیاوپه باب خبرې کوو. نو دټولوڼه مخکې به دځوان شعرې ډون نندارې تـه ډیرتم کیږو. د پښتو د اوسنۍ شعرپه ښکلا او ښېا یسنت کې د ځوانو شاعرانو هر څه ډیره رونبانسه اوځلیدونکې ده . زموږ د هیوادځوانو شاعرانو او تنکیو ادبي استعدادونوپه خوراوروسته کلونو کې دپښتو په شعرې بهیر کې ښې او په زړه‌پورې تجربې وکړلـــې . او ددوي پوښتنې منه او کره آثار ټولنې ته‌وړاندې شول . خودا په دې معنې نه چې د ځوانو شاعرانو نه وړاندې اویامخکې چې کوم شاعران تیرشوې‌دې دهغوی شعرې آثار په سینه لاهـوکړو. اویا هم دهغوی په ارزښت او خانګړتیاو مترګې پټې کړو . بلکه‌زموږ ځوانو شاعرانو دخپلو پخوانیو اومعاصرو شاعرانو دآثارو تراغیزې‌لاندې یواغیزمن کارترسره کړې‌دی.

چې په حقیقت کې یوله بل ســـره کلکې اړیکې جوړوی . اویو له بـل نه یې په جلا تو گه نه شو څیړلی.

دپښتو په معاصر شعری بهیر کی دغزلیزی شاعری بیلگی ډیری زیاتی دی . او زموږ دځوان شعری بهیر بنسټ اوله بنایست نه ډکی نمونـې همدغه غزلیزی بیلگی جـــوړوی .سره له دی چې ځینو ځوانوشاعرانو په آزاد شعر کې داسې تجربې کړیدی چې دپښتو دمعاصر شعری یـــون ښائیست یې ځوچنده زیات کړیدی خوترکومه ځایه چې په مجموع کې خبره کوونو دغزل شاعری دشعـــر نورو قالبونو نه زیاته ده . اوزموږ ځوانو شاعرانو په غزل کې ښه اوپه زړه پوری مسایل بیان کړی دی. په ځوانو غزل بولو شاعرانو کـــی یوهم غلام محمد کامه وال دی چې په ډیر لږ عمرکې یې ښه غزلیـــزه شاعری کړی ده او دادی ((زوبـل یادونه ددې دغږ لیزی شاعری لومړنی شعری ټالنې ده چې له چاپه راوځی. سره له دی چې دکامه وال په دغه شعری مجموعه کې ددده د دوه درې ټولو شعرونه راتـــول شوي دی خوځنی ځنی شعرونه یې داسـنـــی ښکاری لکه یوه پښه او تجربه کارشاعر چې لیکلی وی . اوځنی داسې غزلیزی بیلگی هم په کې شته چې زموږ داوسنی غزلیزی شاعری ښې اوپه زړه پوری نمونې جـــوړوی .دلته به دده څو شعرونه ولولو :

ښکاری چې خپل منزل ته رسمه زه

چې می لامبوگی زخیرونه خاندی

بله نمونه یې :

زه به هیڅکله چاته نه وایمه

گه ته می وژنی انتظار خه کړی

هغه وایه داسی کامه وال ته ګلی

د وصل شپی دی په کی شمارځه له کړی

بله نمونه :

تا سره زموږه ګلـی هرته شـی

ته لویـی خبـری د محل کـوی

یالکه داچی :

چی راته ودی کړی په مینه مینه

هغه خبری به پـه زړه ولیګـم

دکامه وال دشاعری ډیر وخـت نه کیږی . د ډیر لږ وخت نه دده ځنی شعرونه زموږ د هیواد پـه وړځپانو او مجلو کی خپریـږی . خوکوم تکی چی دده دشاعری پـه هکله ماته ډیر معلوم دی ، اوزه فکر کوم زماهغه ملګری چه کامه وال او دهغه دشاعری . سره آشنـادی له ماسره داخبره و منی چی دکامه وال په شعر کی دپرمختګ او کامیابـی لوپه وجه دده دملګرو او شاعرانـو دنظرونو منل دی ، ددیرو شعرونو به باب یی دملګرو شاعرانو نظرونه په ډیر ورین تندی منلی دی اوزیات شعرونه یی دملګرو په خوښه اصلاح کړی دی . او خپلی ادبی هڅی یی په دی توګه جاری ساتلی دی .

بل کوم تکی چی دکامه وال پـه راتلونکی کی ښه رول لوبولی شی هغه د پښتو شعر او د پښتـــو دشاعرانو سره مینه او خلوص دی، که دمطالعی او دپښتو شعر سـره دده مینه او دده هڅی همداسی جاری پاتی شی نودی به دراتلونکی وخت ښه او کامیابه شاعر وی. سره له دی چی دهغه شعری یون د پوخوالی په لوړله ډیرلوړو او زورونه نه دی تیر شوی خوکوم احساس چی په ده کی شته دی هغه موږ په دی باوری کوی چی دی به ددغو لوړواوزورونه هم په پوره کامیابی سره تیرشی .

دکامه وال په دغه شعری جونګ‌کی دپښتوسوپه شاوخوا کی غږ لی راغلی دی چی ویلی شو هغه‌نراوسا‌پوری یوازی دغزل شاعر دی‌دشعر په نورو قالبونو کی هغه شاعری نه‌ده‌کړی خو دغزل دخوږوالی اوروانی نه‌یی داسی ښکلی چی که‌چیرنه‌هغه ازاد شعر هم ولیکی نوپه دی برخه کی‌به هم دپاڼ وړپرمختګ‌وکړی . په‌دغه شعری مجموعه‌کی‌چی دکامه وال نومی عزلی راغلی‌دی‌هغه‌په مجموع کی ښی او لوړی نه شو ارزیابی کولی خنی شعرونه یی‌دنامل وړدی او دنورو شاعرانو تاثیرپری ډیر غالب ښکاری . سره‌له دی چی په دغو شعرونو کی دده وینا اوخیال جدادی خوردیفونه‌او قافیی یی تکراری ښکاری . داکه ده په ناخوداګاه ډول هم لیکلی وی‌لیکلی به‌یی وی خوپه دی قافیی اوردیف داوسّ وخت نورو شاعرانو هم ښه ښه‌شعرونه لیکلی د ی خودا‌سی نه چی دده دغه شعرونه‌کټ مټ نورو شاعرانو ته ورته دی اویایی له نورو شعری آثارو خخه‌را اخستی دی . په هرحال له دی څو لنډو بدونوسره سره ویلی‌شوچی کامه وال دپښتو دخوان شعری بهیر ښه شاعر دی او دده شعرزموږ دخوانو شاعرانو دغزلیزی شاعری یوبرخه جوړوی . خوکه دپښتو شعر په برخه‌کی دکامه وال هڅی اومطالعه له دی نه هم زیاته‌شی نوپه شعری ډګرکی به ډیر پرمختګ و کړی . او مستقبل به‌یی‌ډیر روښانه او خلیدونکی وی . څکه خنی غزلی یی ډیری‌خوږی‌روانی ، له مینی او ژوند نه ډکی ښکاری . او دپښتو داوسنی غزل‌ښی بیلګی جوړوی وګورئ :

څومره یی تیر ه دنظرغشی دی
هومره‌یی خوابه د نظر غشی دی

پـــا م ساتـــه زړګیه پـــــه‌دی لارو کی
دی لا ر وکـــی غلـه د نظـــر غشی ډ ی
ګـوانې براته کوی نن لـــــه‌ودی نه‌پس
جـــو ړ یې‌پښتانـــه د نظـــر غشی دی .

او-داسی یې ډیری غزلی خانګړی‌بنائیست او بنکلا لری . ددەشعری انځورونه او ترکیبونه ډیر خواږه اوزړه وړونکی دی . او غزلیزی‌بیلګی یی دپښتو دمعاصر غزل بنې اوپه‌زړه پوری نمونې بللی شو . چـی تاسی به‌یی په خپله ولولی .

بس همدومره
په مینه
افضل تکور

غـــزل

څه راته اشنا په سوی زړه‌داغونه اینبی دی
څه می دی دنیا په سوی زړه‌داغونه اینبی دی
تاخو رقیبا نو سره روغه جوړه‌وکـــړ له
ماته خپله تا په سوی زړه‌داغونه اینبی دی

ستا دکور اوکلی دکو څې خلك مې پیژنې
چامې بې ګناه په سوی زړه داغونه ایښې دی

ستادی اننګو دی ستمو نودی غرور آشنا
دیر یې بیا زما په سوی زړه داغونه ایښې دی

هغه ستا د شو نه دو په سر یاددی شی یوه خبر
تاددی ګدا په سوی زړه داغونه ایښې دی

او ښکې اوښکې مینه (کا مه واله) ستا په برخه شوه
ماته خوو فا په سوی زړه داغونه ایښې دی

۲۲ ـ ۳ ـ ۱۳٦٥

زلـزلـی

تاچی په مخ زلفی خوری جوړی کړی
زما په زړه دی زلزلی جو ړی کړی
زړه مشوره را کړه نن سنتا دمینی
څکه داو ښکو می جرګی جوړی کړی

ستادی نازو نواد گا نو تـه‌نـن
ساقی محفل کی ولولی جوړی‌کړی
هسی په خوا کی د یار تیرشومه‌زه
خلکو دد ی نه تبصر ی جوړی‌کړی
په شا به یو قدم لاړنه شـم‌چیری
تاکه هر خومره دسیسی جوړی‌کړی
ستادښایسته ستر گو وطن‌کی‌آشنا
چا (کامه وال) ته زو لنی‌جوړی‌کړی

۲۲- ۹ -۱۳٦٥

موسکا

چې دی محل کې ورځې شپې تیرو م
لکه مقتل کې ورځې شپـــــې تیرو م
په لار چې خم نوښپه نیولی شمه
مسترۍ منزل کې ورځې شپې تیرو م

داسی په وړاندی روسته کیږی راته
بس په اجل کی ورځی شپی تیروم
زه دی دیو نظر موسکا پـــه خاطر
ستا په در شل کی ورځی شپی تیرو م
هسی دلری چی بنکاره شی کله
په دی تسل کی ورځی شپـــی تیرو م
ستاد راتلو په انتظار کـــی گلی
دغم محفل کی ورځـــی شپی تیرو م
پکی ستا ینه چی زه ستـــــا ـ کومه
هغه غزل کی ورځـــی شپـــی تیرو م
دچا دمرو شونه و خیرات په طمعه
په تورو وربل کی ورځی شپی

٥ ـ ١١ ـ ١٣٦٥
واصل آباد

غـــزل

څه عجیبه شان حاد ئه تیره‌شوه
چې مې په خوا کې نن هغه تیره شوه
چې دراتلو بې تصور نه کیده
په دغه لارې ولید ه تیـــره‌شوه

کاشکی چی تاسو هم‌لیدلی‌وی نن
چی پتید له نن ښکاره تیـره‌شوه
رینبتیا که ووایه زه‌درته بیا
خدای په‌راستی کړه وړه‌تیره‌شوه
ښه ده چی تاپه ستر گو و نه‌لیده
زمونږ په زړو نو زلز له تیره‌شوه
چی به دیار سره‌و نا ست(کامه‌وال)
هغه ساعت هغه شیبه تیـره‌شوه

۱۶ـ ۱۱ـ ۱۳۶۵
مکرور یان

غـــزل

چې تلوسې زما دقتـل کوې
څکه چې ګې زما دقتل کوې

کله شې مخکې کله روسته رته
دا ارادې زما دقتل کـــوې

غرض‌دې څه‌دې راته وایه‌آشنا
څله وعدې زما دقتـــل کوې

رقیب دلوې چې ښکاره شې کله
بیا اشارې زما د قتـــل کوې

دهر غمازسره چې وینې ته
ورته کیسې زما د قتیل کوې

کومه ګناه‌ده (یګانه‌وایه) زما
چې مشوره‌ې زما د قتل کوې

۲۹ر ۱۱ ر ۱۳۶۵

غـــزل

نوردی په مخ خالونه مه ږده‌صنم
زما په زړه داغونه‌مه ږ د ه‌صنم

دزړه بلبل می پسې چیغې‌وهی
پاس په وربل‌گلونه‌مه ږده صنم

داسې دی زلفې پرمخ مه چوړوه
لکه ښکاره دامونه مه‌ږده صنم

لکه واعظ نصیحت خله گو ی
را ته خالي جامونه مه‌ږده صنم

ستاد صباوعده به‌راشی گله
تش په لفظ‌لاسونه مه‌ږده صنم

هغه دردونه لاورک شوی نه‌دی
تازه تازه زخمونه مه ږده صنم

(کامه‌وال)ستادمخ لمبو و هلی
پرې دوباره او رونه مه‌ږده‌صنم

۱۰ـ۲ـ۱۳۶۵

غزل

چې راته زاړی قتلوی می خله
چاړه په لاس ئی بنکلوی‌می‌خله
زما دمرګ قاتل پخپله‌نه‌یـی
په نوږو خلګو اړوی می خله

زه‌یم‌شهیدبنبخ‌می جا موسره‌کړه
په وینوسوریم لمبوی می خله
چی په ژوندون راته رانه‌غلی‌کله
خاوری په قبر بادوی می خله
په‌مخ‌چی راشی تندی تریوونیسی
محفل کی وایه یادوی می خله
چی دوصال پیرزودی نشی‌په‌ما
په آورد هجر سوزوی می‌خله
د(کام‌په‌وال) جنازه پورته‌شو له
لارو کو خو کی گرځوی‌می خله

۲۶-۱- ۱۳٦٦
واصل آباد

غـــزل

دانه دانه دیار وربل پاتی شو
گوره‌نیمگری می‌غزل پاتی شو
ماوی تکورد زره زخمونه به‌کرم
لامی په‌اور سوی‌گوگل پاتی‌شو

څه نامردی راسره وکړه رقیب
چې‌می‌هرځه‌په ژرنده‌دل‌پاتی‌شو
ستا په ډیدن پابندی و لګیده
څکه له ماد غه محل پاتی شو
واعظه څله نصیحت کړی راته
چاوی چې ماځنی مقتل یاتی‌شو
بیلتانه هسی چاری‌وکړی‌په‌ما
ورته دلری می کتل‌پاتی شو
چې هرما بنام ئی دیدتونه کول
هغه ملنګ نه‌ستادرشل‌پاتی‌شو
زما تندی په کا ؤ وولی نـــن
چې نه‌پردی اونه‌می‌خپل پاتی‌شو
دمیلمه قدر پښتنو سری وی
لاړه پخوا غوندی پا لل‌پاتی‌شو

۸ـ۲ـ۱۳٦٦

لـمـبـی

دهری ورځی خاطری لیکمـه
یکی پرتی خو حادثی لیکمـه
ښه راته یادهغه وختونه دی ستا
کله رنا کله تیاری لیکمـه
داتاج محل دی مبارك وی په تا
زه لیو نوته زولنی لیکمـه
گریوان به څیری ساله لاسه کړمه
کله دی ورځی کله شپی لیکمه
دانه دانه می شی راتوټی په مغ
چی دبیلتون هغه شیبی لیکمه
چی می شی پاتی دایادگار په دنیا
زه په قلم دغم گیسی لیکمـه
چی دغفلت په خوب ویدمپراته دی
شی په را وپښورته لمبی لیکمه

۲۴- ۲- ۱۳۶۶

غـــزل

خومره ئی تیره دنظر غشی دی
هومره ئی خوارِه دنظر غشی‌دی
پام ساته زړ گیه په‌دی‌لارو کی
دی لارو کی غله دنظر غشی‌دی
ته وی چی زما له‌مخی تیره‌شوی
شکه می‌کاږه دنظر غشی د ی
داچی په‌گولو سوری سوری ښکارم
زړه کی می‌پراته دنظر غشی‌دی
گوابښ‌راته‌گوی‌نښ‌له مودی‌نه‌پس
جوړ ئی پښتانه دنظر غشی دی
سترگو کی سنتونه(کامه‌وال)ته‌کړی
ښکاری ملیما نه دنظر غشی‌دی

٢٢ـ ٤ـ ١٣٦٦

دلمبو غزل

لن می داو بنکو پینلنو سره غزل راوړی
بیا می دسپو وار ها نو سره غزل راوړی
چې د جرس خوږی نغمی ور ته غږیږی په لار
چا د ژوندون د قافلو سر ته غزل راوړی

زیری به وکړم په دی سیمه‌په هرچا باندی زه
چی ابا سین مستو څپو سر ه‌غزل راوړی
داشنا کلی ته مزد و مود ونه‌روسته چیرته
دسبا نی نسیم وزمو سر ه غزل راوړی
چی لاتر اوسه د غفلت په خوب‌ویده پراته دی
شنی به راوپښی مادلمبو سر ه‌غزل راوړی
ته خو یوځل‌دخړو خاورو‌سررا‌پورته کړه لږ
ماپه لمن کی دغو نچو سر ه‌غزل راوړی
چی هدیرو کی ستا سو روح‌ورته خوشحاله شنی لږ
ما(کامه‌وال) په‌دی‌ارزو سر ه‌غزل راوړی

۲۴- ۵- ۱۳۶۶

ستړی ارادی

څه ویر جنی حادثی په ا و ږووړمه
چی دهیلو جنـــازی په اوږووړمه
راته نه ښکاری رڼا چیر ته‌په‌ستر گو
توری شپی توری تیاری په‌اوږووړمه
دحالا تو په لمبو کی هر څه‌وسوه
شپه او ورځی اندیښنی په اوږووړمه
پتی ستر گی قافلی پسی روان‌یـــم
څکه ستړی ارادی پـــه اوږووړمه
(کامه‌واله) زه په دی لویه‌دنیاکی
هڅه ماتی تلو سی پـــه اوږووړمه

۲۰ـ ۵ـ ۱۳٦٦
کابل

غـــزل

ستا دیا دو نونه به څه ولیکم
خلك خوازه زه‌به ترخه ولیکـم
که‌لر اوبر سره یوځای‌شوه‌په‌خیر
بیاپه‌هرځای به پښتانه ولیکم
دځو شیبو دمخی راغلی راته
دانن دی تله که‌دی راتله‌ولیکم
چی راته ودی کړی په مینه‌مینه
هغه‌خبری به‌په زړه ولیکـــــم
(کامه‌وال) وائی ستاپه ستر‌گوکی نن
یاره لیمه که‌دی بانه‌ولیکـــم

۲۵ـ ٥ـ ۱۳٦٦

غـــزل

شوخو ککو سره بلد نه یمه
داسی کتو سره بلدنه یمـــه

زلفی دی پوزته کړه چی ودی وینم
زه دتیارو سره بلد نه یمـــه

سینگارونه کړی ته ساده بنه ښکاری
دی تماشو سره بلـــدنه یمه

غابنی دی په شونډو وراته ونه چیچی
نازو نخروسره بلد نه یـــمه

ماته جامونه مخ کی کیده ساقی
تشوپیالوسره بلد نه یمـــه

په خوږه ژبه راته ووایه بیـــا
ستا اشارو سره بلد نه یمه

زما دزړه جو نګړه چارده له تا
دمخلو سره بلد نه یمـــه

ملګرو پوه کړی (کامه وال) په مینه
ددی وختو سره بلـــد نه یمه

۳۱ـ ۵ـ ۱۳۶۶
کابل

داورونو سره لوبی

ستاد خیالونو سره لوبی کوم
خپلوغمو نو سره لوبی کوم
شرابی نه‌یم خود غم د لاسنه
څکه جامو نو سره لوبی کوم
دسمندر څپو اخستی نه یم
دغور څنگونو سره لوبی کوم
چی لږ دردو نو ته دواشی‌کله
هغه‌فکرو نوسره لوبی کوم
تل چی رو ښانه مستقبل ولری
داسی سرو نو سره لوبی کوم
دسوزیدوکنداری وکړه زما
نن داورو نوسره لوبی کوم
لکه پتنگ‌غوندی ایره به شمه
چی سرو گلو نو سره لوبی کوم

۱۳۶۶-۶-۶
کابل

PROPERTY ACKU 2811

مړی ایری

موږ به‌داو بنیکو ډیوی بلی‌ساتو
سنتابه تل پاتی اثری بلی ساتو

که ژاله‌وسوی اوایری‌شوی‌راته
بیا به دامړی مړی‌ایری‌بلی‌ساتو

ددی‌حا لاتو اورنی غیږه کی
ستاد همت خاطر ی بلی‌ساتو

اوس دی یادونه میلمانه‌دی‌زموږ
تل‌به‌همدا سلسلی بلی سا تو

چی‌ستادروح‌جنازه تیره‌شوه‌پری
اوس‌م غه لاری کوځی بلی ساتو

کله ته‌وځی له خاطره زمو ږ
جفه دمیڼی رشتی بلی سا تو

۱۶- ٦- ۱۳٦٦

COPERTA FUXOA

مشال

وړه سپرغی یمه اورونه بلولی شمه
هسی پوکی بم خو بادونه بلولی شمه

زړه زړه یم ستا نظر کی به زه خه بنکاریږم
فکر و نه کړی آسما نو نه بلولی شمه

هغه مشال یم چی ژړیږم اوسوزیږمه تل
خود یارا نو محفلو نه بلولی شمه

مه می آزما یه زه وتلی له لمبو څنی یم
په سروا سکروتو کی شعرونه بلولی شمه

وخته خبردی کړه څان گوره لیونی نه یمه
په دی لاسو کی څنځیرونه بلولی شمه

رقیبه تاخو راته هر قسم کی جوړی کړی نن
زه ما ښنا مو کی سحرونه نه بلولی شمه

۲۰- ٦- ۱۳٦٦
کابل

دلمبو پەخوکو

نوم دپښتومی په ګنډه ی ولیکی
یوخو رازونه دزړګی ولیکـــی

چی ایره شوی‌د لمبو پەخو کو
هغه دمینی سپیلنی و لیکـی

بانډی پورته‌بنه‌دی بنکته‌ئی‌نه‌کړی
دیار کاته هم پښتنی ولیکـــی

چی قربان شوی‌دی دعشق‌لاره‌کی
کله‌دی مړه هغه ژوندی ولیکی

نن برابره‌شوه دخا ورو سر ه
دهغی گل بنکلی خوانی ولیکی

خوږوتر خوپه خوند ئی‌پوه‌نه‌شوخ‌ك
دابی وفا دنیا فا نی ولیکـــی

دزړه دفتر می‌دی‌خور کړی‌ورته
څه ننني څه‌پرونی ولیکی

چی(کامه‌وال)ئی لیونی‌کړوراته
داروغ دمخی لیو نی ولیکـــی

۲۷ـ ٦ـ ١٣٦٦
کابل

تیندکونه

دنن سحرپه لیچوو څنګیـــدم
چې ددلبر په لیچو و څنګیدم

غزل زلمی شو را ته ووی‌زړګی
بیا دهنر په لیچو وخنګید م

هلته زرغون شوه ارمانونه زما
چې د ګودر په لیچو وخنګید م

کاږه واږه‌چې‌راته ګوری آشناء
دهر نظر په لیچو وخنګید م

چې تیندکونه‌خورم بې‌واږه‌ساقی
ستا دسا غر په لیچو وخنګید م

زه (کامبوال) عشق‌کې‌برلا سې شومه
شمس اوقمر په لیچو وخنګیدم

۱ـ ۷ـ ۱۳٦٦
کابل

دنبکلاناوی

ورانی به کعبی کړو میکنی به‌جوړوو دلته
سیږ و به خانونه اولمبی په‌جوړوو دلته
څې چې دهجران توری تیاری‌له‌مخی لری کړو
ای ملګر و داد وصال شپی به‌جوړوو دلته

نن به په محفل کی یو دمینی ساقی و تاکو
نوری ماتی گو ډی او کړی به جوړوو د لته

نن چی داد حسن او ښکلاناوی زموږ نه شی
سر به تری قربان کړو حماسی به جوړوودلته

دا دتکبر او دغرور مانی به ورانه کړو
هرقدم چی اخلو زلزلی بـــه جوړوو دلته

ستایه (کامه والـه) په شعرو نوکی دژوند ورځی
روان به یوپه وړا ندی خا طری به جوړوودلته

۱ـ۷ـ ۱۳٦٦
کابل

د قلم په ژبه

ستر کوته نم دپاسه نم راځی
زړه ته می غم دپاسه غم را ځـــی
حالات که خو راځلی پری کړی ژبه
بیامی په ژبه د قلم را ځـــی
ای لیو نتوبه ستا دمینی کیسی
خیال تصور کی دم په دم راځی
دسر په ستر کوئی منمه آشنا
که چیر ته ستا ظلم ستم راځی
په انتظار لاری خاری (کامه وال)
چاورته ویلی چی صنم راځـی

۸ـ ۹ـ ۱۳۶۶

تعبیرونه

ستا روخسارونه خوب او خیال کی وینم
هغه وختو نه خوب او خیا ل کی وینم
که زړه ته سل تسلی ورکړم آشناء
بیادی یادو نه خوب او خیا ل کی وینم
دزړه دپاسه ئی تیروو مه په خا ن
خپل آرما نونه خوب او خیا ل کی وینم
(ستا په رضا زما رضا دهربه)
دا امیدونه خوب او خیال کی وینم
ته څه خبر ئی په ما څه تیریږی
ژوبله مړ گونه خو ب او خیال کی وینم
دزړگی باغ تاولاوالا ښکار ی نن
مړاوی گلو نه خو ب او خیال کی وینم
چې په صبا ایمان لری (کامه وال)
دا تعبیر ونه خوب او خیا ل کی وینم

۱۳٦٦ -۹- ۱٦

غزل

تش په کتومی تنده ما ته‌نه‌شو ه
په دی وختو می تنده ماته نه‌شو ه

زما لاسونه زنځیر و نه‌غواړی
په زو لنو می تنده ما ته نه‌شو ه

زاړه خمونه را ته راو ړه‌ساقي
ستا په جا مو می تنده ماته‌نه‌شو ه

چې د حالا تو سره خان جوړوی
په دی زلمو می تنده ماته نه‌شو ه

راشه یو خل خورا تر غاړې ډوډه
په اشارو می تنده ما ته نه‌شو ه

۱۳۶۶ -۱۰- ۳۱

گیلی

دمینی تلو سی وی کله تلی کله‌را تلی
داستا دعشق جذبی وی کله تلی کله راتلی

چیرته یو ساعت می دنیادی‌په کی‌نه‌لیه
دژوندون‌سړی تودی‌وی کله‌تلی کله راتلی

په دوستی که دشمنی کی‌سره‌ورک‌چی‌شولودواړه
دحالا تو زولنی وی کله تلی کله‌را تلی

شمعی بلیه لی تولی سیمی‌چراغانه وی
زموږ کلی تیاری‌وی کله تلی کله‌را تلی

دیر خمونه هلته‌تش شول‌تولزموږچی‌شونلری ناست‌وم
چی می زړه کی‌څو گیلی وی کله‌تلی کله‌راتلی

۱۳۶۵ ـ ۱۰ـ۸

غـزل

تاسو چی کعبو کی ډیوی بلی‌کـړی
موږ په میکدو کی ډیوی بلی‌کـړی
تاسو خوشحالی کوی‌بی غمـه‌نن
موږ خپلو غمو کی ډیوی بلی‌کـړی
دوئی که‌په رڼا ورځی ما بنام‌راووست
موږ هم په‌تیارو کی ډیوی بلی‌کـړی
ته ئی بلوه ناصیحه څان تـه‌نـــن
مالارو کو څو کی ډ یوی بلـی‌کـړی
تاکه را ته جوړی هر قدم کی‌کـړی
موږ په زولنو کی ډیوی بلـی‌کړی
تاچی څومره جبر او ستـــــم‌وکړ
موږ په څو صلو کی ډیو ی بلی‌کړی

۱۶ـ ۱۰ـ ۷۳۶۶

شاړی کوخی

اوښکی می څاخی په لـــیمو راخی
غوږ ته آواز د زو لنـــــو راخی

رقیبه گوره د عز ت حجـر ی ته
لاخو زلمی د پښتنـــــــو راخی

اغیار که لاری راته و نیسی بیا
ماته آشنا په بد ر گـــو راخی

راته ښکاړ یږی د نسیـم څپو کی
داخوشبو ئی ستاد کمخـــو راخی

دلته یاران له تند ی مـــری ورپسی
هلته کړ نگار د پیما نـــــو راخی

شاړی کوخی شو ی (کامه واله) دلته
زړه ته ارمان د لیو نـــــو راخی

۱۷ ـ ۱۰ ـ ۱۳٦٦
جلال آباد

کندوالی

زړ ګیه غیر له اند ینبنو نه‌بل به څه ولیکو
خواږه خو نشته دترخونه بل‌په‌څه ولیکو

بنکلی موسم دسپر لی را غی‌خلك‌مینی‌کوی
موږه دسو و ار ما نونه بل بـه‌څه ولیکو

نوربه رانه‌شی‌دی جونګړی‌ته‌خو شحال‌او ایمل
اوس دی را پاتی پښتنونه‌بل‌به څه ولیکو

چی هر خوا ګورم میخا نی‌دمینی‌رنګی بنکاری
ساقی دی ورانو کنډ وا لونه‌بل‌به څه ولیکو

مطربه یاره‌په رباب کی‌نوی‌سازونیسه
راځه دسوو ترانو نه بل بـــه‌څه ولیکو

۲۰ ـ ۱۰ ـ ۱۳٦٦

دکمخو گلونه

اخلم دی تهمت د تهمتو په سر
بدم دی سره گلونه دکمخو په سر
یو څل که پخلا شوی گلی ماسره
وړم به دی نازو نه د لیمو په سر
ډیر یی آرمانجن یم ساقی رایی گړه
خیر دی که وده شوم د جاموپه سر
لابه تری منگر نه شم ددار په سر.
سر که می شوك پری گړی دپښتو په سر
مینه چیر ته جرم او گناه نه ده
داسی تل راځی دلیو نو په سر
څه گړی (گامه واله) لیو نتو ب بنه دی
مینه کی به خیژو داغزو په سر

٤ـ ۱۲ـ ۱۳٦٦
کابل

دوصال وعـدی

کله کله تو کونه رینبتیا خبری جوړی شی
ته راته موسکی شه چې زما خبری جوړی شی
ته راته بنیری کړه خیردی زه به دوعا گانی کړم
گلی تر هغی چی زما اوستا خبری جوړی شی
زه چی د آشنا نه کله طمعه د دیدن وکـړم
سم یی په تندی راته بیا بیا خبری جوړی شی
څومره چی وعدی دوصال تن کوی آشنا راته
تیره هغه ورځ شی دسبا خبری جوړی شی
پټه مینه نبه ده (کامه واله) چی رسوانه شی
نه چی زموږ منځ کی دهرچا خبری جوړی شی

۵ـ ۱۲ـ ۱۳۶۶
کابل

درنـا کـلـی

دتر مواو ښکو او سلګو پوښتنه‌چاو نه کړه
زما دسو و آرما نو پو ښتنه‌چاو نه کړه

پرون زما دسو ز یدو ننداری‌تولو وکړی
لمبه لمبه شوم له لمبو پوښتنه‌چاو نه کړه

راځی‌چی بل‌کلی ته لاړ شو لیونو ملګرو
دلته دځیری ګر یوانو پو ښتنه‌چاو نه کړه

چی شپه او ورځی دستم کانې‌وریږی‌په‌موږ
له دغو جګوآ سما نو پو ښتنه‌چاو نه کړه

راځه چی لاړشو «کامه‌والـه»درنا‌کلی‌ته
په دی محل‌کی د تیاروپو ښتنه‌چاو نه کړه

٤ـ ۱۲ـ ۱۳٦٦
کابل

قـاتـل نظـر

نن په تیارو کی سحر و نـــه‌خاند ی
ستا په خندا کی امیدو نـــــه‌خاند ی
ستا په قاتل نظر کی څه دی‌آشنا
په ټول بدن کی می زخمو نه‌خانډ ی
ښکاری چی خپل‌منزل ته رسمه‌زه
چی می‌په لاسی‌کی څنځیرونه‌خاند ی
ستاد نظر څنـــی و نـــه ووتمهٔ
څـکه سینه کی می اورو نـــه‌خاند ی
خومره ښایسته دمی خوری ورځی دی
چاته کاسی چاته جا مونـــــه‌خاند ی
کله چی نوم دی آشناء واورم‌چیرته
بیامی په زړه کی ستا غمونـه‌خاند ی

٦ـ ١٢ـ ١٣٦٦
کابل

رتـل

پټ چې دښو لاندې کتـــل کوې
ستر ګې دې قاتلې دې وژل کوې
دابه وې رېښتيا اوکه درو غ آشنا
چاوې چې وژل او هم رغـــل کوې
زما په سو زيدودې هډو نشته خيال
بيا راته په شو نډو موسيد ل کوې
هروخت ستا له دره بې نوا ځمه
يو ځوا ادا ګانې بل رتـــل کوې
تاسره زمونږه کلې چر تـــــه شې
ته لوې خبـــرې د محـــل کوې
زه خوار مانجن ستا ددېدن يمه
زړه دې چې نه نيږې کړې که کنځل کوې

۱۰ - ۱۲ - ۱۳٦٦
چهلستون کابل

وران کـلـی

نشته رڼا دلته تیـــا ر ی ولیکی
زما ژوندون لمبی لمبـــــی‌ولیکی
لاری‌د خا ورو سر ه سمـــی‌شو لی
دکلی کو رور انی کـــو څـی‌ولیکی
داڅه حالت دی چی تیر پرۍ‌په موږ
چی څی را ځـــــی دا جنا زی‌ولیکی
قلم را واخلی د محفـــــــل‌ملگر و
یو څـو و یر جنـــی خا طر ی‌ولیکی
څوك به‌په وینو کـــی لمبیږی‌دغـم
چا تـــــه دو صل مر حلـــی‌ولیکی
(کامه وال) وائی د و ختـــو دلاسه
دغه زړه گـــی تـــوتـــــی ټوټی ولیکی

۱۲- ۱۲- ۱۳۶۶
پغمان

ننگرهارته

مور بلبلا ن ته مو گلزار اوسه‌تل
زمور په زړه کې ننگرهار اوسه‌تل

دشرا فت شمله دی پور ته‌شه‌لاء
دفر هنگو نو بنکلی بنبار اوسه‌تل

په تا تیر یږی را تیر یږ ی‌مدام
دی پښتو نخوا ته‌لو یه لاراوسه‌تل

تاکی بنبخ شو ی د عز مت‌سرونه
دافغا نانو افتخار اوسه تل

څوك چې په بدو ستر گوگوری‌تا ته
ته دهغو دپاره داراو سه‌تل

داستا په سیمه دی سپر لی وی‌مدا م
دمعشوقو داغاړی هار اوسه‌تل

۱۳ـ ۱۲ـ ۱۳۶۶
جلال آباد

دباچا خان په مړینه

غـــزل

ویـر شو ما تم د پښتنو کلی کی
پریو تو غم د پښتنو کلـی کی
په‌لر اوبرکی ډیوی مړی بنکـاریږی
جوړ شو تور تم د پښتنو کلی کی
دبیلتانه لمبی خور ی شو ی پکی
نه شته صنم دپښتنو کلـــی کی
ملگر و لاړ لو خدا ئی خـــــه‌متگار
ورك شو صنم دپښتنو کلـی کی
دپښو رنه تر کا بلـــــــه‌پوری
ویـــر شو لو سم دپښتنوکلی کی
بیا به رانه شی دی جو نگړی ته‌نور
مات شو قدم د پښتنو کلـــی کی
پری ځی را ځی د پښتو نخواگلونه
ویاړ شو تور خم د پښتنوکلی کی

غزل

ماته په زړو ستر گـــو راوگوره
بیا په پښتنو ستر گـو راو گوره
تند ه به زما دزړ گی ماتـــــهشی
یو څل په هغـــو ستر گوراوگوره
زه به توری تو ر ی ستر گیخه کړمه
ما ته په دی مړو ستر گوراوگوره
عشق او مینه دواړه لیو نتو ب کیوی
نن په لیو نو ستر گو ر اوگور ه
بیابه دیدن وشی او که نه چرته
لږ په غر څنو ستر گو راو گوره

۱۳۶٦ـ ۱۲ ـ۱۳

غزل

تش دخو لی خندا ده مینه‌چرته ده
لبا سی د نیا ده مینه چـــرته ده

څنگه اعتبار وکړی په ښکلو څوك
دمطلب وینا ده مینه چـــرته ده

راشی وعده وکړی بیا منکـــراوسی
یو ډول سزا ده مینه چـــر ته ده

خدا پرو له خندا نه مر ور یمه
سرا سر ژړ اده مینه چـــرته ده

خلکه لیو نتوب ورځنی ډیرښه‌دی .
عشق ټوله سودا ده مینه چرته ده

نشته‌پخوانی‌ادائی ستر گـــوکی
بل شانی مو سکا ده مینه چرته ده

۲۰ -۱۲- ۱۳٦٦

غزل

ستا اننگو کی د غزل نښـــی‌دی
که په سپر لو کی د غزل نښی‌دی
چې ستا یادونه را وریږی په‌مـا
په دغه شپو کی دغزل نښـــی‌دی

پریږده چې و خا ند ی اووغوړیږی
په سرو غنچو کی دغزل نښی‌دی
دمینې راز راته څرګند شـوپکی
دزړه زخمو کی دغزل نښـــی‌دی
راځی چې وئی لیکو ز مـــاملګرو
په دی وختو کی د غزل نښی‌دی
په سر راواړه وه خمو نـــــه‌راته
سا قی پیا لو کی د غـزل‌نښی‌دی
دکامه وال دوینو رنګ دی په‌کی
ستا چې ککو کی دغزل نښی‌دی

۲۱ـ ۱۲ـ ۱۳٦٦
دکابل نوی بنار

پتی سلگی

راشه دو عد ونه خبر نه دی‌خوك
نن دی دراتلو نه خبر نه دی‌خوك
چاته دزړه حال ویلی نـــه‌شمه
ستا دستمو نه خبر نـــه دی‌خوك

زه یم چې په مینه مینه څکمه‌د ا
ګنې دی تر خو نه خبـــر نه‌دی‌خوك
پورته شنې لو خړې دزې ګی‌نه‌شی
زما دسو زیدو نه خبر نه دی‌خوك
نه می راځې او بنکې خو ژې یزمـه
دی پټو سلګو نه خبر نه د ی‌خوك
ډیر به لیو نی کړی کامه وا ل‌په‌شان
ستا د مړو ګټو نه خبر نه دی‌خوك

۲۳ ـ ۲ ـ ۱۳٦٦

غزل

داسی چی تیر یږی نن په ما باندی
رادی نه شی دا سی په بل جا باندی
وی خاته لاس د زند گی نه نـــور
هر شه می داو گری خپل آشنا باندی

نشته یو ساعت دخو شحالی په کی
توله ورځ شی تیره په سودا باندی
چاله چی دخوږ ژوند کی فر یادو کړم
تیره می خبر کړی په خندا باندی
کرځم لیونو غو ندی بی خودینه
هسی یو ژوندی یم په دنیـــا باندی
مه مروړه لاسو نه (کامه واله) اوس
تیرو تی دښکلو په مو ضکـــا باندی

۲۴ ـ ۲ ـ ۱۳۶۷

سوی ارمان

ستا د هجر شپو ته بلـــوم ډیوی
ناست یمه غمو ته بلـــوم ډیوی
خدای خبر چې رابه شی که نه چرته
لائی زه وعد و ته بلـــوم ډیوی
څه زما د خوار نصیب په برخه دی
سو و آرما نو ته بـــلو م ډیوی
کله به وز گار شمه خندا تـــه زه
تول عمر زخمو ته بلـــوم ډیوی
خلاصی (کامه واله) دزړه وینی شوی
څو به ما بنیا مو ته بلـــو م ډیوی

٦ جوزا ١٣٦٧

دستر گوگوزار

اول په مینه کی اظهار خـــله کړی
خپله دی ووی بیا انکار خـــله کړی
چی دسرو شو نه وشراب نه راکوی
بیادی په خوله باندی اسرارخله کړی
زه به هیخکله چـاته نـــه وایمه
که ته می وژنی انتظار خلـــه کړی
زه دی په طمع وم چی دا بهشی ځمن
پرون دی زلفی تار په تار خله کړی
زه لیونی په خیـــله لا ره تلمه
ته دی په ستر گو کی گوزارخله کړی
مه وایه دا سی (کامه وال) نه گلی
دو صال شپی دی پکی شمارخله کړی

۱۳۶۷-۳-۱۴

نه درد نه شونه دوا

ورکه ده موسکا زموږ په کلی کی
نشته ده وفا زموږ په کلـــی کی
نوره وریځو ونیوه آسمان په کی
کله شته رنا زموږ په کلی کی

وار وو مه چا ته دا مید مترگی
درد نه شو دوا ز مو ږ په کلی کی
څه چی تصور وربا ندی نـــــه کیدو
وشو ه نن صبا زمو ږ په کلی کی
ای ددنیا خلکو را شی وګـوری
کیږی نا روا زمـــو ږ په کلی کی
څوك په کی دمینی اثر نـــــه لری
ټول عمر جفا زمو ږ په کلـــی کی
څی چی چر ته بلی خوا ته لاړشونن
مینه ده ګناه ز مو ږ په کلی کی
پس دی (کامه واله) زړه دی صبر کړه
رابه شی وار بیا زمو ږ په کلی کی

۱۳۶۷ -۳- ۲۶

غزل

ډیرچی شوه لفظونه بی اعتباره شول
خلکو قسمو نه بی اعتبار ه شول

څنگه دمین زړگی حـــا ل ووایم
وینم چی زاړه ونه بی اعتبا ر ه شول

څومره ئی چی څکمه بی ثاثیره دی
ښکاری چی جا مونه بی اعتباره شول

ډیر دی چی دعوی دلیونتوب کوی
څیری گر یوا نو نه بی اعتباره شول

لاس په لاس سوداده (کامه واله) نـن
پام ساته لاسونه بی اعتباره شو ل

۲۸ـ ـ٤ـ ـ۱۳٦۷

دوصال لاری

چې دهجران شیبه په زړه وی زما
لاره دژوند کې به ترخه وی زما
زړه به می حلته په قرار شی حسنه
سبا په لیمو کې چې لیمه وی زما

خیرات د شو نه وکه دی راکړ گلی
هغه ساعت باندی به تله‌وی زما

بیابه دی څه کړ مه چی راشی‌را ته
پټ د دنیا نه چی بانه و یی‌زما

دوصال لارو ته می د یـــــر وکاته
تل به همدا گیله په خو له وی‌زما

خدا یږو چی جوړشی دغه وران کلی‌می
په - اتفاق چی پښتا نـــه وی‌زما

۱۶ـ ۳ـ ۱۳۶۷

غزل

تاتو که دنیا زه لیو تـــــی کړمه
پوه نه شو مه چـــازه لیونی کړمه
څوك به دی جفا نه فر یادو نه کړی
ستا ډیری و فا زه لیو نـــــی کړمه

پریږ ده چې محفل کې په جاروواېم
خدا یږ و چې دا تا ز ه لیونې کړمه

خکه‌له دې سمې نه صحرا ته‌شوم
دیر ی نا روازه لیو نـــــې کړمه

کلي خوك به خه او خوك به څه‌وایي
ستا تشـــې خـــندا زه لیو نې کړمه

مخ ته یې کتل خوبه وی‌گران‌منم
هسې تما شا زه لیو نـــــې کړمه

غزل

انتظار سخته شیپه‌شو ه چیرته‌لاړی
ستا وعده خومره‌اوږده شوه‌چیرته‌لاړی
ستا دمخ اوخورو زلفو به څه‌ستایم
خوانی مرګه‌می اسره شوه چیرته‌لاړی

که باور نه کړی پوښتنه څنی وکړه
غم ځپلی حادثه شوه چیرته لاړی
توله شپه می ستا یادو نه میلمانه وو
پاتی زړه کی می گیله شوه چیرته لاړی
تـولو خلکو زما ښی نندارې وکړی
چی بی صبره حوصله شوه چیرته لاړی
(کامه واله) دبیلتو ن ظا لـــم دلاسه
نن می پور ته جنازه شوه چیرته لاړی

۳ـ ۸ـ ۱۳٦٥

تلـو سـی

چی می په زړه کی تلو سی پاتی دی
ستا دیادونو سلسلی پاتی دی
مر گیه لاړشه اوس وزگار نـه یمه
لاخو زمونږ زیا تی وعدی پاتی دی

خکه یی نن لاری خـــا ر م ملگرو
بس درا تلو ئی خو شیبی پاتی‌دی
گوره یعقوب په ستر گو پوندشو پسی
خه دوختو نو حاد ئی پا تـی‌دی
ماته ایمل اودخو شحال دخولی‌نـه
یو څو خبری پښتنی پاتی‌دی
رقیبه تانه تیتیه لی نـــه‌شی
لامی دننګ یو خو شملی‌پاتی‌دی

۱۷ـ ا ـ ۱۳٦٦
باغ بالا

غـــزل

دارتقا او د بد لو ن غـــزل‌دی
رسی منزل ته د پښتون غزل‌دی

ورته خلیږی په سپیدو کې‌موسکا
زما غزل د سباوون غـــزل دی

چې ویده زړو نه په درزا راولی
دامی جوړ کړی دپا خون غزل‌دی

دډنیا خلك به حیر ان شـــی‌ورته
دخوږی مینې د سمو ن غـزل‌دی

چې یې ستاینه (کامه‌وال) کړی‌مدام
دانسا نیت او حڼ وڼدون غزل‌دی

۱۷ـ ۲ـ ۱۳۶۶

غزل

وسوپتنگ په سرو لمبو باندی غزل ولیکی
څې دمزار په منا روبانـــــدی غزل ولیکی
دیر و مغرور ور قیبا نو ور ته کینبنو ده سر
ملنګر و داسې پښتنو با ندی غزل ولیکی

دلته راغلی وه خو هیڅوك پری‌خبرنه شو لو
اوس ئی په ورانو قدمو باندی‌غزل ولیکی

پس دمودو مودوچی‌مړاوی‌غوټی‌گل شوی‌پکی
راشی په دغسی سپرلو باندی‌غزل ولیکی

دوطن جنو ئی له سروو ینوخالونه ایښی
نن په ملاله او نازو با نـــدی‌غزل ولیکی

چی دمړانی‌ئی‌مغل انگریزکیسی‌کوی نن
دآزادی دننگ شملو باند ی‌غزل ولیکی

دی تورو سترگوتورو زلفوته‌مودِ یرو لیکل
نن دوطن په‌غرورغو باندی غزل ولیکی

ای دمحفل خوږو یارانو زمږه‌یم اوکه نه
د(کامه‌وال) دغو شعرو با ند ی‌غزل ولیکی

۹- ۵- ۱۳۶۶

غ-زل

خاو ری می نظر د خپله لاسه کړ
سوی می خیګو دخپله لاسه کړ
خلکه ملا مت د لته پـــه خپله یم
یار می راخبر دخپله لاسه کړ

تل چی به دیدن د خو ږی مینې وو
وران می دا کودرد خپله لاسه کړ

څه ښکلی وطن می دګلو نـووو
جوړ می تر ی محشر دخپله لاسه کړ

خوری به تینه کو نه قا فله ژما
ورك چی می سفر دخپله لاسه کړ

راشی مخ می دوا ړه طرف تورکړی نن
وروزمی در په درد خپله لاسه کړ

غلام محمدکامه وال داول گل‌زوی دی په ۱۳۳۳ هجری شمسی کال کی د ننګرهار دولایت دکامه، داولسوالی د ((اخوند)) په کلی‌کی زیږیدلی دی . لومړنی زده کړی یی په خپل کلی‌کی وکړلی اوپه ۱۳۵۷ ه ، ش کال‌کی دکامی دمرادعلی د لیسی ددولسم ټولګی نه فارغ‌شوی دی . ددولسم ټولګی دفراغت نه وروسته یی دکورنیو چارو په‌وزارت‌کی دافسر په توګه په کارپیل وکړ. چی اوس هم ددغه وزارت په امنیتی‌جزوتامونو کی افسر دی.

کامه وال د۱۳۶۳ ش کال راهیسی‌شعر لیکی یوشمیر شعرونه یی دهیوادپه مطبوعاتو کی هم خپاره‌شوی دی . ژوبل یادونه دده د شعرونو لومړنی چاپی مجموعه ده.